مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوالان: ډاکټر محمد حسين پاپلي يزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۲/۰۱/۲۱

# لويه تلوسه

## اوه ويشتمه برخه

**د اوبو بين المللی قوانين**

**دوهمه برخه**

**دويم فصل**

**سرحدي سيندونو لپاره د وړانديزونو دلبندي / ټولبندي**

د څلورمي او پنځمي برنامي د قانون له مخې( د څلورمي برنامي د ۱۷ مادی د «د» بند او د پنځمي برنامی د ۱۴۰ مادی د«ه» بند) دولت د پولي د اوبو د کنټرول مسئوليت لري.

۱ ـ د بريښنا وزارت د سرحدي رودخانو(پوليزو سيندونو) د هر اړخيزو مطالعاتو طرحه تعقيب او وڅاري. ( البته د زياتو سرحدي سيندونو مطالعات ترسره شوي او يا د اجرا کيدو په حال کي دي خو دايمي څارنه يې لازمه دی )

۲ ـ بريښنا وزارت دې د سرحدي سيندونو حوضو د سيمه ايزې ټيکاوونې مشارکتي پراختيا لپاره په تيره بيا هريرود او هلمند لپاره مخکښ شي خو وکړای شو هم معموله اوبو برخه ترلاسه کړو او هم مجازي اوبه واردې کړو.. **د شريکو حوضو د ټيکاوونې سيمه ييزې مشارکتي نظريې د منلو په صورت کي د سيند (رودخانی) له اوبو څخه د متناسبې او منطقی ګټې اخيستو او د اوبو د ونډې مشخص کيدو حق ته د پاملرنی له مخې، چې پدې کتاب کې مطرح شوي، عمده مسئلی دي، د بهرنيو چارو وزارت او د اړوند نورو وزارتونو سياست بايد د حقابې او سيمه ييزې ټيکاوونې او پايدارې پراختيا پر شاوخوا راوڅرخيږي نه دا چې يوازې د اوبو په لټه کې وي.**

۳ ـ د بريښنا وزارت له هيواده بهر (له پولو اوړيدونکو) اوبو د هراړخيزو مطالعاتو طرحه چې پر هغوی د نامستقيمي لاسرسي احتمال موجود دَی لکه آمو دريا، ولګا، اُب، ايرتيش، او د سند سيندونو او د نورو زيرمو مطالعات ترسره کړي. سمه ده چې دغه مطالعات نبايد له صفر پيل شي. بايد ترسره شوي مطالعات تر لاسه شي او هغه بشپړ کړو. دغه مطالعات سربيره پر فني مسئلو، د نړيوالو حقوقو، د مسير هيوادونو تطبيقي حقوق، د مسير د ګټې اخيستونکو عرفي حقوقو مسئلی، ټولنيزې، اقتصادي او سياسي مسئلې هم رانغاړي. په دې سربيره وړانديز کوي چې مطالعات، د سيمه ييزې پايښتمني پراختيا د نظريې پر لور حرکت وکړي.

۴ ـ د انرژی وزارت، د ګاونډيو هيوادونو د بريښنا د توليدي دستګاو جوړولو په پانګونه کې شريک شي. د جوړوني په قرارداد کې بايد وکتل شي چې که چيرې ايران د اوبو پمپولو لپاره بريښنا وغواړي لومړيتوب لري. د بريښنا انرژی توليدولو څخه موخه دا وي که هرچيرته بايد اوبه پمپ شي د بريښنا توليدولو ته په تمه نشو. په همدې حال کې د کټورتيا يا ګټې ترلاسه کول له پامه ونه غورځول شي( ارمنستان سره اوبيزی بريښنا پروژې په څېر پروژې په بايد په ټينګه پرمخ يوړل شي)

۵ – له هيواده بهر اوبو زيرمو د مطالعاتو پانګې تامينولو او له هيواده بهر اوبو پانګونی لپاره دې د انرژی وزارت لايحه پارلمان ته وړاندې کړي او د عوارضو د وضعې په صورت کې لازم اعتبارات ترلاسه کړي. بيلګې په توګه د



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ښاري ځښاک اوبو له هر متر مکعب څخه ۵۰ رياله او معدني اوبو هر ۵، ۱ لتر لپاره ۱۰۰ ريال او کليوالي ځښاک اوبو هر متر مکعب لپاره ۲۵ رياله د ۱۳۸۹ کال د اساس په بيه ترلاسه کړي او د هيواد له بندونو څخه ترلاسه شوو کرنيزو اوبو هرمتر مکعب په بدل کې د ۱۳۸۹ کال په اساس په حقابی ۱۰ رياله ورزيات شي. دغه پول پيسي بايد سل په سلو کي د انرژ ي وزارت په واک کي وي او له پولي بهر اوبو په مطالعاتو کي په تېره بيا د خوړو او کاني اوبو په پېرودنه له بهرڅخه د باندې د اوبو بريښنا په توليدي چارو کي په پانګوونه او هيواده د باندې د اوبو په بورسونو کي او د بندونو په جوړونه کي هيواده بهر د اوبو ليږدوني په شبکو کي په ځانګړې توګه د ايران په شاوخوا تمدني حوضه کي ولګوي.

۶ - د بريښنا وزارت بايد مخکښ شي او په علمی استدلال او پخو تبليغاتو او د ماهرينو او پوهنتونوالو او نورو په ملاتړ دولت ته ثابته کړي چې په اوسنيو شرايطو کې، د ځينو کرنيزو محصولاتو برخه کې د ځانبسيايني بحث په تيره بيا لکه هندوانه، خربوزه ، بادرنګ او حتی د ونو د ميوې په څېر د محصولاتو صادرول ياني له هيواده د اوبو صادرول او د هيواد د اوبو په وړيا غورځول دي. د انرژی وزارت بايد پردې بريالی شي څو مجلس څخه هغه قوانين پاس کړي چې د محصولاتو توليد لپاره په ونډې ټاکلو سره او هيواد کي د ننه د کرنيزو توليداتو د سمي بيلګي اجرا کولو لپاره د اوبو د بابيزه لګيدو مخه ونيسي. دغه راز داسی قوانينو ته اړتيا ده چې په معقول حد کي اوبه لګوونکي غذايي محصولات له بهره وارد شي او پدې توګه مجازی اوبه واردې کړو.

۷ – د انرژی وزارت بايد وکړای شي دکرهنيز جهاد وزارت قانع کړي چې يوځايي مجلس ته هغه لوايح وړاندې کړي چې په هغو دشتو کې چې د ځمکي لاندې اوبو زيرمي يې لويدو او تشېدو په حال کې دي د هندواني،خربوزې او صيفي جاتو په څېر ( هغه کرنيز محصول چې کال تر سره، له کر تر لَو، په ځمکه کې وي) اوبه خوره محصولاتو له کرني مخنيوَی وشي. يا د دغه محصولاتو کرنه جغرافيه يی موقعيت ته په پاملرنی سره په برخو وويشي او يا په ټوليزه توګه محصولات بايد د شنو کورونو له لاری وکرل شي.

۸ ـ د انرژي وزارت بايد بهرنيو چارو وزارت سره لازم مذاکرات عملي کړي څو بهرنيو چارو وزارت په پيل کې د لوېي اداري په کچه او بيا وروسته په تخصصي مرستياليز حد کې د سرحدی او له پولي آخوا اوبو تامينولو لپاره لازم تخصصي جوړښت رامنځ ته کړي..څو پدې توګه په بهرنيو چارو وزارت کې د اوبو ډيپلماسي هڅانده شي. په يقين سره تر راتلونکو شلو کلونو پوری به په بهرنيو چارو وزارت کې د اوبو ډيپلماسی په بهرنيو چارو وزارت کې د يوه عمده مرستيال په کچه را منځ ته شي.

۹ ـ بهرنيو چارو وزارت، د انرژی وزارت، اطلاعاتو وزارت، د ايران سفيران او نمايندګی او د ايران نور مسئولان بايد هيواده بهر کي په ټولو ځايونو کي په ځانګړې توګه زمونږ شاوخوا حوزه کي له ترکيې، ارمنستان،آذربايجان، ترکمنستان، سوريې، عراق تر روسيې افغانستان او پاکستان حتی هند پورې د اوبو مسئله، د اوبو قراردادونه او اوبو سره اړوند نورې چارې په ځيره تر څار لاندی ونيسي. همدغه راز د بهرنيو چارو وزارت او اړوند نورې دستګاوې بايد ګاونډيو او نا ګاونډيو هيوادونو سره د اسراييلو هر ډول قراردادونه وڅاري او د اوبو مسئلي په تړاو د دې هيواد سياسي فعل او انفعالاتو په بهير کې و اوسي.

۱۰ – د انرژي وزارت ، بهرنيو چارو وزارت او لکه د سوداګری او اقتصاد په څير نور مسئول وزارتونه بايد په ګډه توګه يوه وېره او غځېدلي او تنظيم شوې اطلاعاتي پايګاه، زمونږ شاوخوا په پراخي حوضه کي له سايبريا تر فرات په سوريه کي رامنځ ته کړي. اوږدمهال کي پدې پايګاه کي حتی د خوړو اوبو د يوې چيني آمار هم بايد ترتيب شي.

۱۱ ـ د ايران د هوا پيژندنی سازمان بايد د اطلاعاتو ترلاسه کولو او د هغوی ترتيبولو لپاره زمونږ په شاوخوا په ټوله اوبيزه حوضه کې لازم جوړښتونه ولري.

۱۲ ـ دولت بايد د اوبو يو ځانګړي کميسيون او ځانګړې دايمی کارډله په ډېره لوړه کچه د جمهور ريس په مشرتوب او د وزارت په منشی توب رامنځ ته کړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۱۳ - د انرژي وزارت او د بهرنيو چارو وزارت بايد كوټلي لازم ګامونه واخلي څو په كار كې لګيا ټول عوامل لكه د اسلامي شورا مجلس، د دولت پلاوی، ملي امنيت ، د نظام مصلحت، او وسلوال ځواكونه ( نظامی او پوله ساتي) قضائيه قوه د اوبو په مسئله كې واحد او يو لاسه سياست ولري.

۱۴ – د اسلامی شورا مجلس د هيواد ۵۰ كلن لورليد سند تصويب كړي او داسی قوانين وضع كړي چې پدې لورليد كې بې د ايران د اوبو تامينول وويني د ايران د اوبو قوانين بايد د نړی د اوبو د ډېرو بشپړو له قوانيو څخه وي.

۱۵ - مجلس بايد دولت ته دنده وسپاري چې اوبو سره اړوند بين المللي ټولو كنوانسيونونو سره پيوستون وومومي. حتی د ايران دولت مخكښ شي څو نوی كنوانسيون په ځانګړي توګه حوضو ترمنځ او هيوادونو ترمنځ او لويو وچو ترمنځ د اوبو د ليږدونې په برخه كې او د اوبو د ترانزيت مسئله د ملګرو ملتونو سازمان له خوا تصويب شي . كله چې د ملګرو ملتونو سازمان د بشريت د حق د اوبو ورځ او د اوبو كال تصويبوي مسئله بايد له شعاري حالته په كنوانسيون ، معاهدې او قانون واوړي.

۱۶ – د اسلامی شورا مجلس بايد د هيواد د اوبو امنيت تامينولو لپاره ځانګړی كميسيون (كورنی او بهرنی) جوړ كړي. مجلس بايد په پام كې ونيسي چې د هيواد نيمايی ختيځه برخه په يوه هغه بهرني هيواد پوری تړل كيږي چې د هغه هيواد د اوبو لګښت په خپله ورځ تربله مخ په زياتيدو دَی. د هيواد د ختيځې برخې امنيت او پراختيا د مجلس له پريكړو سره تړلی دَی آيا د نيمايي هيواد امنيت چې زموږ سرحدی محدودې څخه بهر اوبو له سرچينو سره تړلی نه ايجابوي چې په مجلس كې ځانګړی كميسيون ولري؟ كه چيری دغه كميسيون ايجاد شی ځمكي لاندې اوبو ستونزو ته به هم ډېره او دقيقه پاملرنه وشي.

۱۷ – د اسلامي شورا مجلس د اوبو او كركيلې كميسيون بايد واقعاً د اوبو او كركيلې په سياست جوړونه كې كلي توګه تجديد نظر وكړي . هغه قوانين د مجلس تصويب ته واستول شي چې د هيواد د اوبو او خوراكي توكو امنيت تامين شي. كميسيون او مجلس د هيواد د ځمكي لاندې اوبو په ساتنه كې مسئول دي. د غير مجازو څاګانو قانوني كولو په څېر قوانينو تصويبول غټه تېروتنه او د هيواد ، ملت او د ژوند چاپيريال په زيان دی.

۱۸ – د انرژي او د هيواد د هوا پيژندنې سازمان هڅه وكړي او ګاونډيو هيوادونو سره خپلې فني همكاريګانې پراخي كړي. دغه كار د مجلس او دولت پراخ او غوڅ ملاتړ غواړي.

۱۹ - پدې ټولو مواردو كې د هيواد د ژوند چاپيريال سازمان بايد فعال حضور ولري. دغه سازمان د ايران ستري نړيوالي مسئلې لپاره يانې اوبو، لپاره بايد د لرليدونكی سند، ستراتژي، جوړښت او اعتبار خاوند وي، دغه سازمان نبايد كرار او لاس تر زنې كښيني چې پراخو ريګ بادونو طوفانونه چې ارال بحيری او يا د سيستان له هامونونو څخه رامنځ ته شوي دي لكه د لويديزو ريګ طوفانونو په څېر ايران ته راننوځي او بيا په څه وكړم څه وكړم ويلو پيل وكړي. د دشتو پراخه كيناستنه او د ښكته تللو مهمه برخې مسوليت د ژوند چاپيريال د سازمان پر غاړه دَی. سازمان بايده دي د اوبو په زمينه كې ډېر فعال عمل وكړي.

۲۰ – د ايران او ګاونډيو هيوادونو د دوستی ټولنې، د اوبو او ژوند چاپيريال په برخه كې ډېرې هڅاندی شي. بين المللي چوكاټونو كې د اوبو او د ژوند چاپيريال NGO ګانی رامنځ ته شي. موكه وركړو چې د غه جوړشتونه تشكيل شي ، تصويب شي او په صحنه كې فعال ګډون ولري.

۲۱ – د سرحدي سيندونو اوبه كاروونكي (آب بر) جوړښتونه ځواكمن كړو څو په بين المللي ډګر كې حضور ومومي. د اوبو كاروونكي جوړښتونه، د دريمې برنامې قانون ۱۰۷ مادې سره سم، چې خلورمې برنامې په ۱۷ مادی كې تنفيذ شوي، بايد رامنځ ته شي. څو دغه جوړشتونه په هغو ولايتونو كې چې تشكيل شوي دي لكه شمال خراسان د ولايت د اوبو كارپوهانو او مسولانو له ساره چلند سره مخامخ شوی دي. له هر څه وړاندې بايد د يادو بنيادونو په برخه كې د سيمه ايزو اوبو د شركتونو چار پيژندونكي قانع كړی شي.

۲۲ – ايران لپاره تر ټولو ټيكاومنه او پاينتوني ډيپلماسي، اوبو ترلاسه كولو لپاره سيمه ايزه همكاري ده. د سيمه ييزی مشاركتی ټيكاومنی پراختيا تر ټولو ټيكاومنه همكاري، د هغو هيوادونو د اوبډنونو حوضې دي چې مستقيم يا نا مستقيم موږ ته اوبه راكوي. **كه وواپو چې په راتلونكو ۵۰ كلونو كې به روسيه د سايبريا او والګا سيندونو د اوبو**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيز بنې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په څير و لولئ

**په مټ د آسیا په پراخه برخه ډیپلماتیک او اقتصادي برلاسی ترلاسه کړي مبالغه او له عقل وتلی خبره به نه وي.** روس چې د سایبریا په غازونو بې نن مهال د اروپایي هیوادونو مهمه برخه په ځان پورې تړلي ده په نه چندان لېرې راتلونکي کې به - حد اکثر ۵۰--۴۰ کاله د سایبریا د اوبو په مټ د مرکزي آسیا د هیوادونو مهمه برخه د ایران ختیځ او د افغانستان لویدیځ به په ځان پورې وتړي. ناشونی نده چې تر ۱۰۰ راتلونکو کلونو پورې د هغه سیندونو د اوبو یوه برخه چې باید شمال قطب ته تللی وای عمان سمندرګي ته ورسیږي. یانی د آَب، لنا، ینی سئی د لویو دریابونو د اوبو یوه برخه افغانستان، ایران، او د بلوچستان له لارې عمان سمندرګي او مکران ته ګټې اخیستو لپاره ورسیږي.

۲۳ – د سوداګرۍ او اقتصاد وزارتونه، په **تېره د ایران خصوصي برخه** د دولت په ملاتړ، د بهرنیو چارو او انرژۍ وزارتونو په همکارۍ د اوبو بریښنا برخو کې زمونږ بین المللي پانګوني لپاره د مناسبو ځایونو په لټون کې واوسی. دغه پانګوني کیدای شي د کنګو سیند یا په پیرو برازیل هیوادونو کې د آمازون سیند سرښاخونو د اوبیزې برېښنا په تاسیساتو کې، یا د سهیل د کنګلونو په پیرودني او د حمل او نقل او یا د آند غرونو د خوړو اوبو د یوې چیني په پیرودنه کې وي. **د لږو اوبو لرونکی ایران د نړۍ په هر ګوټ کې چې وي د اوبو په چارو کې پانګونه وکړي او امتیاز ولري. مونږ باید د اوبو په بورس بازارونو کې په ټولو ځایونو کې حاضر او فعال و اوسو. کله چې وایو مونږ یاني دولت، بانکونه، خصوصی برخه، تعاونی برخه، وقف او ... ،**

که د ۱۹ او ۲۰ پېړیو واکمن قدرتونو شعار د نفتو او ګازو پر سرچینو پانګونه او برلاسی ول. سپارښتنه کوو چې د ایران شعار باید په ۲۱ پېړی کې پانګوني له لارې د نړۍ د اوبو او بریښنا زیرمو ته ننوتل برلاسي وي.

نور بیا

**دریم څپرکی**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ